امارت اسلامی افغانستان
اداره آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

# هفته نامه
## مدیریت حوادث

شماره یکصد و پنجاه و دوم
۵ الی ۱۰ ثور ۱۴۰۵



### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې لوی رئیس د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له رئیسې سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له رئیسې، مېرمن میا پارک، د خطر کمولو د پروګرام مسئول، اشرف السحر، د بېړنیو مرستو د پروګرام مرستیال، فهیم صافی، د اړیکو مسؤل، محمد سلیم خالد او د یاد سازمان د سرپناه د برخې له مسؤلې، مېرمن سوسن سره وکتل.

د متن دوام (۵) پاڼې

### کار تخریب پنج کتله سنگ در معرض لغزش با حضور معین انسجام امور حوادث در ناحیه هفتم شهر کابل آغاز شد

محترم الحاج ملا عبدالولی څارنوال (حاجی وارث)، معین انسجام امور حوادث اداره آمادگی مبارزه با حوادث، در حالی‌که محترم الحاج ملا اختر محمد خادم، رئیس وقایه و کاهش خطر، به همراه هیئت تخنیکی و مسلکی نیز حضور داشتند، به ساحه ناحیه هفتم، گذر سوم، عقب وزارت امور مهاجرین و عودت‌کنندگان رفته و کار تخریب پنج کتله سنگوا که احتمال لغزش آن‌ها وجود داشت، رسماً آغاز کرد.

ادامه متن صفحه (۳)





### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې او په آسیا کې د نړیوالو ټولنیزو خدمتونو مؤسسې (CWSA) ترمنځ د (۴۱۶،۳۹۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په خپل کاري دفتر کې په آسیا کې د نړیوالو ټولنیزو خدمتونو مؤسسې (CWSA) له رئیس، محترم حزب‌الرحمن رحمن سره وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

د متن دوام (۵) پاڼې



### د پېښو چارو د انسجام معین په کابل ښار کې د هغو ډبرو د ویجاړولو له کار څخه چې د ښویېدو امکان یې شتون درلود څارنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، په داسې حال کې چې د خطر د مخنیوي او کمولو رئیس، محترم الحاج مولوي اختر محمد خادم، د څېړنې او مطالعاتو آمر، محمد مجتبی افضلي، د پېښو د تحلیل او ارزونې کارپوه،

د متن دوام (۵) پاڼې

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې لوی رئیس د فراه ولایت له والي سره وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د فراه ولایت له والي محترم الحاج ملا محمد حافظ مجاهد سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

د متن دوام (۵) پاڼې





### د پېښو چارو د انسجام معین په کاپیسا کې د هغو ۱۲ ډبرو د ویجاړولو له بهیر څخه چې د ښویېدو امکان یې شتون درلود څارنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د پېښو چارو د انسجام معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د خطر د مخنیوي او کمولو له رئیس، محترم الحاج مولوي اختر محمد خادم او یو تخنیکي او مسلکي ټیم سره یوځای کاپیسا ولایت ته سفر وکړ او د ولایت د مرکز اړوند د الیاس خېل په کلي کې یې د هغو ۱۲ ډبرو او د دوو خاورینو غونډیو د بدنې د ویجاړولو له بهیر څخه، چې د ښویېدو امکان یې شتون درلود، څارنه وکړه.

د متن دوام (۵) پاڼې

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶ نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.
غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.
وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.
د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.





### د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۲۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت د بکواه ولسوالۍ په دود بازار، سیاه قلعه او بخت آباد کلیو او د ګلستان ولسوالۍ په بند نو کلي کې د وروستیو سېلابونو له امله ۳۲۲ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشل.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یوه بوری ۵۰ کیلویي غنم، نیم کیلو توري چای، یو عدد پلاستیکي صندوق او دوه پایې سولري څراغونه ووېشل شول.
د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلین ټېنګار کوي، چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنو شویو او مستحقو کورنیو ته به پر وخت رسیدګي کوي او هغوی ته به بشردوستانه مرستې رسوي.



### د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۱ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیري خوراکي مرستې ووېشلې

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د طبیعي پېښو له امله ۲۱ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته د خوراکي او غیري خوراکي توکو مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هري کورني ته د مسؤلینو په شتون کې، ۲ بورۍ ۵۰کیلویي غنم، ۲ عدد څراغونه او ۲ عدده صندوقونه ووېشل شول.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۱۰۳ خانواده بی‌جا شده داخلی کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



به اساس هدایت رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار در ولسوالی پچیراگام آن ولایت، برای ۱۰۳ خانواده بی‌جا شده که در نتیجه درگیری‌های اخیر بی‌جا شده بودند، پس از سروی، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسئولین، به هر خانواده ۵۰ کیلوگرام گندم، ۳ کیلوگرام شکر و یک چراغ توزیع گردید.

## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۶ زده کوونکو ته د ژمني توکو کېټونه ووېشل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د WAR child او د CANDA موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک پر بنسټ، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په څوکۍ ولسوالۍ کې د ماشومانو لپاره د دوستانه محلونو ۵۶ زده کوونکو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې، هر زده کوونکي ته د ژمني توکو یو کېټ ووېشل شو.





## د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د IOM، WFP او UNICEF دفترونو په ملاتړ، ۲۳۲ کورنیو ته چې د یاد ولایت په کچه د بارانونو او سیلابونو له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د IOM دفتر لخوا هرې کورنۍ ته ۳ تختې کمپلې، ۲ عدد سولري څراغونه، ۱ تخته ترپال، ۱ د پخلنځي بسته، ۱۰ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته د یادو توکو سربېره یو باب خیمه، د WFP دفتر لخوا هرې یوې ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ لیتره غوړي، ۲۰ کیلو مالګه او ۲۵ کیلو دال او د UNICEF سازمان لخوا هرې کورنۍ ته د پخلنځي ۱ بسته او ۱ روغتیایي بسته ووېشل شوه.



## تیم رضاکاران اداره آمادگی مبارزه با حوادث در ولایت جوزجان تشکیل و فعال گردید

به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث، روند فعال‌سازی تیم‌های رضاکاران در ولایات کشور ادامه دارد. در همین راستا، تیم رضاکاران ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان نیز فعال گردید.

به منظور تقویت ظرفیت رضاکاران، هیأت مرکزی اداره شامل سمیع‌الله حیات، آمریستم ملی معلومات مدیریت حوادث(NDMIS) و مسئول برنامه رضاکاران و فیض‌محمد آغا، آمر ارزیابی و نظارت، به شهر شبرغان سفر نموده و برای رضاکاران منتخب از ولسوالی‌ها و نواحی شهری، برنامه یک‌روزه آموزشی برگزار کردند.

در این برنامه، روی اهداف و نقش اداره آمادگی مبارزه با حوادث، اهمیت برنامه رضاکاران و چگونگی تنظیم و اجرای فعالیت‌های رضاکارانه معلومات ارائه شد. همچنان، طرزالعمل‌ها و رهنمودهای کاری این برنامه برای اشتراک‌کنندگان تشریح گردید.

در پایان، رضاکاران پس از امضای تعهدنامه کاری، از سوی اداره مورد تشویق قرار گرفته و برای آنان هدیه های که در نظر گرفته شده بود توزیع شد. این برنامه با تأکید بر تداوم آموزش‌ها و ارتقای ظرفیت رضاکاران خاتمه یافت.



## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۹۸ بېځایه شویو کورنیو ته نغدي او خوراکي مرستې ووېشلې

د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالي ملاتړ او د AWCPO موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په ډنډ پټان او څمکنۍ ولسوالیو کې د وروستیو جګړو له امله ۱۹۸ بېځایه شویو کورنیو ته نغدي او خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته، ۵،۸۰۰ افغانۍ نغدي پیسې او ۴.۲ کیلو بسکېټ ووېشل شول، چې ټولټال یو میلیون او یو لک او اته څلوېښت زره او څلور سوه افغانۍ (۱،۱۴۸،۴۰۰) نغدي پیسې د یادو کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.



## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶ تنو د شهیدانو ورثه او ټپیانو ته نغدي مرستې ووېشلې

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو سیلابونو له امله د ۳ تنو شهیدانو ورثه هر یو ته ۲۰،۰۰۰ افغانۍ او ۳ تنه ټپیانو هر یو ته ۱۰،۰۰۰ افغانۍ ووېشلې، چې ټولټال نوي زره (۹۰،۰۰۰) افغانۍ نغدي پیسې د یادو کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

همدارنګه په خنجان، دوشي او دهنه غوري ولسوالیو کې د وروستیو بارانونو او سیلابونو له امله د زیانمنو سیمو سروې پیل کړې ده. د لومړنیو معلوماتو له مخې، ۱۴ کورونه په بشپړ ډول او ۳۴ کورونه په نسبي ډول ویجاړ شوي دي.

ورته مهال، په خنجان ولسوالۍ کې د سیلابونو له امله مواصلاتي لارې په شپږو بېلابېلو ځایونو کې تړل شوې وې، چې د یاد ریاست لخوا د دغو لارو د خلاصون لپاره ماشینرۍ لکه، اسکواټور او لوډر سیمې ته استول شوي دي څو لارې د تګ راتګ پر مخ بېرته خلاصې شي.

د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ډاډ ورکوي، چې زیانمنو کورنیو به د رسېدنې او مرستو رسولو لړۍ دوام ومومي.



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۳۶۳ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار، با حمایت مالی سازمان بین المللی مهاجرت (IOM)، برای ۳۶۳ خانواده که از اثر بارندگی‌های شدید و سیلاب‌های اخیر در ولسوالی‌های رودات و شینواری آسیب دیده بودند، پس از سروی، کمک‌های غیرغذایی توزیع کرد.

در این روند با حضور مسؤلان، به هر خانواده یک عدد چراغ سولری، یک بسته سیت آشپزخانه، ۱ عدد جاروی دستی، یک تخته فرش پلاستیکی و ۳ تخته کمپل توزیع گردید. همچنان از این میان، برای ۱۰۱ خانواده‌ای که منازل‌شان به طور شدید تخریب شده بود، به هر خانواده یک باب خیمه نیز توزیع شد.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په کوهستانات ولسوالۍ کې ۱۰۹۵ وچکالۍ ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او د ماهو موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکې یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت په کوهستانات ولسوالۍ کې ۱۰۹۵ مستحقو او وچکالۍ ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې، چې د اړوند مسؤلینو په شتون کې ترسره شو، هرې کورنۍ ته یوه بوری ۵۰ کیلو اوړه، ۵ لیتره غوړي، ۶ کیلو دال او نیم کیلو مالګه ووېشل شوه.





## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ارزگان برای ۷۶ خانواده سیلاب‌زده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ارزگان، با هماهنگی دفتر هماهنگی امور بشردوستانه سازمان ملل متحد (OCHA) و با حمایت مالی مؤسسات IOM، MEDAIR، AYSO، ADNO، WFP و INTERSOS، برای ۷۶ خانواده که از اثر بارندگی های شدید و سیلاب‌های اخیر در ولسوالی‌های مختلف آن‌ولایت آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسؤلان، از طرف WFP با همکاری مؤسسه HOPA به هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۲۰ لیتر روغن، ۲۵ کیلو دال، ۴۲ پاکت بیسکویت و ۲ کیلو نمک از طرف مؤسسه ADNO به هر خانواده یک بسته فامیلی (شامل ۲۷ قلم مواد)، از طرف مؤسسه INTERSOS به هر خانواده ۴ بسته حفظ الصحه که هر بکس شامل ۱۹ قلم مواد و مبلغ ۵۴۰۰ افغانی پول نقد توزیع گردید که در مجموع مبلغ چهار لک و ده‌هزارو چهار صد (۴۱۰ ۴۰۰) افغانی پول نقد برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود. و همچنان از طرف دفتر IOM برای یک خانواده که منازل‌اش کلی تخریب شده بود یک باب خیمه، از طرف مؤسسه MEDAIR به هر خانواده یک بسته حفظ‌الصحه شامل؛ ۱۵ قلم مواد و از طرف مؤسسه AYSO به هر خانواده ۲ تخته ترپال توزیع شد.



## د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په کهمرد ولسوالۍ کې د وروستیو بارانونو او سیلابونو له امله ۲۳ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې هرې کورنۍ ته د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې، ۲ بوری ۵۰ کیلویي غنم، ۱ بوری ۲۵ کیلویي وریجې او د پخلنځي ۱ بسته ووېشل شوه.




## د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۷ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) او د یونیسیف دفتر په همغږۍ، د وروستیو بارانونو او واورو له امله د زیانمنو کورنیو وضعیت ته د بېړنۍ رسېدنې په موخه، له سروې او د زیانمنو د پېژندنې وروسته، د یاد ولایت په عنابه، دره، رخه، شتل، پریان، حصه اول، آبشار ولسوالیو او مرکز کې ۶۷ کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.

په دې بهیر کې، هرې کورنۍ ته د IOM له لوري، ۳ تختې کمپلې، دوه عدد سولري څراغونه او هغو کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، یو باب خیمه، د WFP له لوري، هرې کورنۍ ته ۸ بورۍ اوړه، ۴ بوتله غوړي، ۲۵ کیلو دال او ۲ کیلو مالګه او د UNICEF له لوري هرې کورنۍ ته د پخلنځي یوه بسته، یوه روغتیایي بسته، د حفظ الصحې بروشور او کتابچې او د اوبو د پاکولو ۱۰۰ تابلیت ووېشل شول.

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همکارو بنسټونو له همکارۍ څخه د قدردانۍ ترڅنګ، د دې مرستو پر دوام ټینګار وکړ او ډاډ یې ورکړی چې نورو اړمنو کورنیو ته به هم رسېدنه وکړي.

## د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په شکین ولسوالۍ کې ۳۹۹ بېځایه شویو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې او د RHDO موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، چې د پروژې تمویلوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د دې ولایت په شکین ولسوالۍ کې ۳۹۹ کورنیو ته، چې د وروستیو جګړو له امله بېځایه شوی وې، خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې، چې د اړوند مسؤلینو په شتون کې ترسره شو، هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو دال، ۱۸.۱ کیلو غوړي او کیلو مالګه ووېشل شوه.

د یادونې وړ ده، چې په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او تمویلوونکې موسسې څخه د قدرداني ترڅنګ د دې ډول مرستو د دوام غوښتنه وکړه.

## تیم رضاکاران اداره آمادگی مبارزه با حوادث در ولایت فاریاب تشکیل و فعال گردید

به اساس هدایت الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث، روند فعال‌سازی تیم‌های رضاکاران در ولایات کشور ادامه دارد. در همین راستا، تیم رضاکاران ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب نیز فعال گردید.

به منظور ارتقای ظرفیت رضاکاران، هیأت مرکزی اداره شامل سمیع‌الله حیات، آمر NDMIS و مسئول برنامه رضاکاران، و فیض‌محمد آغا، آمر ارزیابی و نظارت، به شهر میمنه سفر نموده و برای رضاکاران منتخب از ولسوالی‌ها و نواحی شهری، سمینار یک‌روزه آموزشی برگزار کردند.

در این برنامه، روی اهمیت برنامه رضاکاران، اهداف و مأموریت اداره آمادگی مبارزه با حوادث، و چگونگی تنظیم فعالیت‌های رضاکارانه معلومات ارائه گردید. همچنان، طرزالعمل‌ها و رهنمودهای کاری این برنامه برای اشتراک‌کنندگان تشریح شد.

در پایان، رضاکاران پس از امضای تعهدنامه کاری مورد تشویق قرار گرفته و برای آنان هدیه‌هاب که از قبل در نظر گرفته شده بود اهدا شد. همچنین بر تداوم برنامه‌های آموزشی و تقویت ظرفیت رضاکاران تأکید صورت گرفت.






## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۲۸۰ خانواده سیلاب‌زده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس، برای ۲۸۰ خانواده که از اثر سیلاب‌های اخیر در مرکز آن ولایت آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسئولین، برای ۴ خانواده که خانه‌هایشان به طور کلی تخریب شده بود، به هر خانواده یک باب خیمه، ۲ بوری ۵۰ کیلویی گندم، ۱ کیلو چای سیاه، و برای ۸۴ خانواده که خانه‌هایشان به‌صورت نسبی تخریب شده بود، به هر خانواده ۲ بوری ۵۰ کیلویی گندم، ۲ تخته کمپل و ۱ کیلو چای سیاه، و برای ۱۹۲ خانواده دیگر به هر خانواده ۲ بوری ۵۰ کیلویی گندم و ۱ کیلو چای سیاه توزیع گردید.

## په میدان وردګ ولایت کې د یو ګبیوني دیوال د جوړولو چارې پیل شوې

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې د یو ګبیوني دیوال د جوړولو چارې د ۵۳ متره اوږدوالي په درلودلو سره پیل کړې.

دغه دیوال به د سیدآباد ولسوالۍ په ګیدړخیل سیمه کې د ۵۳ متره اوږدوالي او ۳ متره لوړوالي په درلودلو سره جوړ شي.

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ محترم رئیس، احمد شاه ذهین د یاد ولایت اوسېدونکو ته د ډاډ ورکونې ترڅنګ وویل، چې د ګبیوني دیوالونو جوړول به په هغو سیمو کې عملي کېږي، چې کورنۍ، کرنیزې ځمکې او د هغوی حاصلات د سېلابونو د راتلو له امله له جدي ګواښ سره مخ وي.

د یادونې وړ ده، چې د دې پروژو د پلي کولو موخه د سېلابونو له خطرونو څخه د ښاریانو د ځان او مال ساتنه ده.




## د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۷۸ بېځایه شویو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د DACAAR او د ARCI موسسو په ملاتړ، د دې ولایت له مرکز اسعدآباد او بېلابېلو سیمو څخه د وروستیو جګړو له امله بېځایه شویو ۱۷۸ کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د ARCI موسسې له لوري د WFP په مالي ملاتړ، له یاد شمېر کورنیو څخه ۲۸ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه او د DACAAR موسسې له لوري ۱۵۰ کورنیو هرې یوې ته ۱ د حفظ الصحې کېټ ووېشل شو.






## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په ګیلان، مقر، اندړ، ده یک ولسوالیو او مرکز کې د وروستیو بارانونو او سېلابونو له امله ۱۲۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې د مسؤلینو په شتون کې، له یاد شمېر کورنیو څخه ۶۰ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلو غنم، ۱ عدد لاسي څراغ، ۱ عدد پلاستیکي صندوق، ۴۳ کورنیو هرې یوې ته ۱ عدد روغتیایي بسته او ۲۲ نورو کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته یو باب خیمه ووېشل شوه.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ۱۹۷ داخلي بې‌ځایه شویو کورنیو ته د خوراکي او غیرخوراکي توکو مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د لوی رئیس د لارښوونې پر بنسټ، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په نازیانو ولسوالۍ کې د وروستیو جګړو له امله ۱۹۷ داخلي بېځایه شویو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلوګرامه غنم، ۳ کیلو بوره، یوه پایه سولري څراغ او ۲۰ پاکټه د کلورین ټابلیټ ووېشل شوې.

د یادونې وړ ده، چې یادې مرستې د جګړو له امله زیانمنوشویو او بې‌ځایه شویو کورنیو ته د بیړنیو اړتیاوو د پوره کولو په موخه ووېشل شوې.



## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په سروبي ولسوالۍ کې د وروستیو بارانونو له امله ۶۴۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابی په لارښوونه، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د کره ارزونې له ترسره کولو وروسته، په سروبي ولسوالۍ کې د وروستیو بارانونو له امله ۶۴۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

د یاد ریاست رئیس، محترم مولوي نجیب الله انوري، د مرستو د وېش پر مهال وویل چې د وروستیو بارانونو له امله په دې ولسوالۍ کې یو شمېر خلک زیانمن شوي دي او موږ د څو ورځو تر کره ارزونې وروسته نن ورځ ۶۴۵ کورنیو ته مرستې ووېشلې. هغه زیاته کړه چې د هرې کورنۍ لپاره ۵۰ کیلو غنم، ۱۲.۵ کیلو وریجې، یوه د حفظ الصحې بسته چې ۱۷ قلمه توکي پکې شامل دي، ۳ عدده پلاستیکي صندوقونه، ۲ عدده څراغونه او ۱۰۰ پاکټه د اوبو د پاکولو تابلیتونه په پام کې نیول شوي وو.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس څرګنده کړه، چې موږ به په راتلونکي کې هم هڅه وکړو څو د زیانمنو خلکو لپاره لا زیاتې مرستې برابرې کړو.

په همدې حال کې، د مرستو ترلاسه کوونکو د پېښې او زیانونو په اړه خبرې وکړې، او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې او د I.I.I څخه یې منته وکړه او مسؤلینو ته یې د خیر دعاوې وکړې.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۲ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې

د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر (OCHA) په همغږۍ او د ADA، AYSO، UNFPA، WFP، IOM او INTERSOS بنسټونو په مالي ملاتړ، د دغه ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د سېلابونو له امله ۴۲ زیانمنو شوو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، د مسؤلینو په شتون کې، د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) له لوري د ADA موسسې په همکارۍ، هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۸ لیتره غوړي، ۲۵ کیلو دال، ۲۲ کیلو بسکټ او ۲ کیلو مالګه د IOM سازمان له خوا هرې کورنۍ ته یوه کورنۍ بسته، ۲ د اوبو بېلرونه، ۳ تختې کمپلې او یو سولرې څراغ د INTERSOS مؤسسې له لوري هرې کورنۍ ته د اوبو د تصفیې یوه بسته، یوه روغتیایي بسته او ۲ د روغتیا ساتنې بستې او همدارنګه د UNFPA او AYSO مؤسسو له خوا هرې کورنۍ ته ۲ تختې ترپالونه ووېشل شول.

همداراز، د IOM سازمان له خوا له همدې کورنیو څخه هغو ۳ کورنیو ته، چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته یو باب خېمه هم ورکړل شوه.




## بهبود سیستم‌های اداری و تجهیزاتی در ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث در چندین ولایت کشور



به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره آمادگی مبارزه با حوادث، به منظور تأمین مصونیت بهتر کارمندان، ایجاد شفافیت در امور کاری، تنظیم مؤثر گدام‌ها، تطبیق سیستم حاضری الکترونیکی، بهبود خدمات اینترنتی و رسیدگی به سایر نیازهای اساسی، روند تجهیز و اصلاحات اداری در ریاست های این اداره در سطح ولایات کشور عملی می گردد. این پروسه در چندین ولایت تطبیق شده و روند آن همچنان ادامه دارد.

قابل ذکر است که در ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث در ولایات کابل، کاپیسا، پروان، پنجشیر، میدان‌وردک و بامیان، کمره‌های امنیتی، دبه‌های ضدحریق، سیستم حاضری الکترونیکی، بهبود سیستم اینترنت و ترمیم اساسی گدام‌ها نصب و تنظیم گردیده است.

گفتنی است که این اقدامات در راستای بهبود سیستم‌های اداری، افزایش شفافیت، ارتقای سطح مصونیت کارمندان و فراهم‌سازی سهولت های کاری در ریاست‌های آمادگی مبارزه با حوادث در سطح کشور روی دست گرفته شده و قرار است این روند در سایر ولایات نیز ادامه یابد.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نیمروز برای ۲۵۱ خانواده متضرر کمک های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت نیمروز در ولسوالی دلارام آن ولایت، بعد از سروی، برای ۲۵۱ خانواده متضرر از سیلاب‌های اخیر، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند با حضور مسؤلان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۵ کیلو بوره و نیم کیلو چای توزیع گردید.

همچنان، از میان این تعداد خانواده‌ها، برای ۴۰ خانواده که بیشتر متضرر شده بودند، علاوه بر کمک‌های فوق، به هر خانواده یک باب خیمه و یک پایه چپرکت نیز توزیع شد.

مسئولین ریاست آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت اطمینان داده‌اند که برای رسیدگی به خانواده‌های متضرر از حوادث طبیعی و تأمین نیازمندی‌های آنان، تلاش‌های‌شان را به‌گونه دوامدار ادامه خواهند داد.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
Afg. National Disaster Management Authority
andma.gov.af @ANDMA



## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۶۵۰ خانواده مستحق کمک‌های غذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه امضاءشده میان اداره آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه (ASIO) که تمویل‌کننده آن برنامه جهانی غذا (WFP) می باشد، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با همکاری این مؤسسه، در ولسوالی دهنه‌غوری آن ولایت، پس از سروی برای ۶۵۰ خانواده مستحق، کمک‌های غذایی توزیع نمود.

در این روند، با حضور مسؤلان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۴.۵ لیتر روغن و ۶.۵ کیلو دال توزیع گردید.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۷۳ خانواده آسیب‌دیده مواد غذایی وغیر غذایی توزیع کرد

در این روند ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان، برای ۷۳ خانواده که از اثر سیلاب‌های اخیر در مرکز ولایت سمنگان آسیب دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های غذایی و غیر غذایی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسؤلان، به هر خانواده ۲ بوری گندم، یک بسته آشپزخانه یک بسته البسه توزیع گردید.

## جلسه تخنیکی میان اداره آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه اکتید برگزار شد

جلسه تخنیکی میان اداره آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه اکتید با حضور کارشناسان و مسئولان تخنیکی هر دو طرف در مقر این اداره برگزار گردید.

در این نشست، اشتراک‌کنندگان روی بهبود هماهنگی‌ها در عرصه مدیریت حوادث، افزایش ظرفیت‌های تخنیکی‌و تطبیق برنامه‌های مشترک به منظور کاهش خطرات ناشی از حوادث بحث و تبادل نظر کردند. همچنان، طرفین روی چگونگی ارایه کمک های عاجل برای متضرران ناشی از حوادث صحبت نموده و تاکید بر هماهنگی‌های لازم میان نهادهای کمک رسان نمودند.







## د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په خنجان ولسوالۍ کې د ورستیو سېلابونو له امله د تړل شوي عمومي سړک د بیرته خلاصولو چارې بشپړې کړې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې له مخې، د بغلان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت په خنجان ولسوالۍ کې د باجګاه درې او خشکک سیمو د وروستیو سېلابونو راوتلو له امله د تګ راتګ پر مخ د تړل شوي عمومي سړک د بیرته خلاصولو چارې پای ته ورسولې.

د یاد سړک د پاکولو چارې د ۵۲،۹۰۰ افغانیو په لګښت د کرایه شوي یو عراده اسکواتړ په واسطه له ۲۳ ساعته کار کولو وروسته بشپړې شوې.

د یادونې ده، چې د دې سړک په خلاصولو سره د تګ راتګ کوونکو ستونزې په بشپړ توګه له منځه پای ته ورسېدې.




## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۲۹ زیانمنو او مستحقو کورنیو ته نغدي خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دفتر، RRAA او ډاکار مؤسسو په مالي ملاتړ او د ARCIO مؤسسې په تخنیکي همکارۍ، د دې ولایت د ښار په لومړۍ ناحیه کې ۳۵ مستحقو او په خوګیانیو ولسوالۍ کې ۱۹۷ او همدارنګه په روداتو ولسوالیو کې ۹۷ سېلاب ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته نغدي، خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په مالي ملاتړ او د ARCIO مؤسسې په تخنیکي همکارۍ ۱۹۷ کورنیو هرې یوې ته ۱۰۰ کیلو ګرامه اوړه، ۹.۱ کیلو ګرامه غوړي، ۱۲.۵ کیلو ګرامه دال او ۱ کیلو ګرام مالګه او د ډاکار مؤسسې له لوري ۳۵ کورنیو هرې یوې ته یو عدد د اوبو پاکولو فلټر او د RRAA مؤسسې لخوا ۹۷ کورنیو هرې یوې ته یو د روغتیا ساتنې کیټ او ۱۰۶۰۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره یو میلیون او اته ویشت زره او دوه سوه (۱،۰۲۸،۲۰۰) افغانۍ نغدي پیسې ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د مرستو د ترلاسه کولو په پار له یادو بنسټونو او د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه مننه وکړه او خوښي یې څرګنده کړه.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئیس د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) له رئیسې سره وکتل

په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب د IOM سازمان د ساختماني او وقايوي پروژو او د بېړنيو مرستو په برخه کې يو ښه همکار وباله، او همدارنګه د دې اداري د رضاکارانو په جذبولو يې خبرې وکړې او ويې ويل چې د رضاکارانو جذبولو پروسه په چټکۍ روانه ده او په نږدې راتلونکې کې به بشپړه شي او اړينه ده چې له هغوی ملاتړ وشي.
د اداري لوی رئيس د پېښو د مديريت معلوماتي ملي سيستم (NDMIS) پر اغېزمنتيا ټينګار وکړ او ويې ويل چې د دې برخې او کارکوونکو يې بايد ملاتړ شي، ځکه چې دا د ټولنې د پياوړي کولو په ګټه دی.
په همدې حال کې، مېرمن ميا پارک، د دواړو ادارو ترمنځ همکاري غوره وبلله او ويې ويل چې ما خپلو همکارانو ته لارښوونه کړې ده، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري سره جدي همکاري وکړي؛ ځکه چې دا اداره ډېره اغېزناکه ده. او ډېر خدمات ترسره کوي هغې همدارنګه زياته کړه چې زموږ هدف د پېښو د مديريت په برخه کې د يو ملي او فعال ميکانيزم جوړول دي، او د همدې لپاره موږ د تماس مرکزونو او د پېښو د برخې د رضاکارانو پياوړي کولو په لټه کې يو.
هغې په پکتيا ولايت کې د نيمګړيو پروژو د بيا پيلولو په اړه يادونه وکړه او ويې ويل، چې هغه ټولې پروژې اوس بيا پيل شوي او په نږدې وخت کې به بشپړې شي.
مېرمن پارک همدارنګه وويل چې په کونړ ولايت کې د زلزله ځپلو لپاره د سرپناه جوړولو کار روان دی او موږ هڅه کوو چې له تمويل کوونکو څخه د دې برخې لپاره نورې بودجې ترلاسه کړو، ځکه چې خلک دې برخې ته اړتيا لري.
دا غونډه د پېښو د مديريت په موخه د سيمه ييزو ظرفيتونو د لوړولو او د نورو پروژو د تطبيق لپاره پر هراړخيزو خبرو سره پای ته ورسېده، او دواړو لورو د همکاريو پر دوام ټينګار وکړ.

## کار تخريب پنج کتله سنگ در معرض لغزش با حضور معين انسجام امور حوادث در ناحيه هفتم شهر کابل آغاز شد

کار تخريب اين کتله‌سنگها با تلاوت آياتی از کلام‌الله مجيد آغاز شد و پس از آن، معين انسجام امور حوادث بر سرعت، دقت و رعايت تدابير ايمنی در روند تخريب اين سنگها تأکيد کرد.
در همين حال، الحاج ملا اختر محمد خادم، رئيس وقايه و کاهش خطر، در مورد اين پروژه معلومات ارائه کرده و گفت که اين کتله‌سنگها با حجم مجموعی ۹۹.۶۹۶ متر مکعب، جان باشندگان منطقه را تهديد می کرد و اکنون براساس هدايت رهبری اداره، کار تخريب مصون آن به هزينه ۶۹۶ ۹۹ افغانی آغاز شده است.
قابل ذکر است که تيم فنی جستجو و نجات اداره نيز به‌منظور فراگيری آموزش تخريب مصون اين کتله‌سنگ ها در ساحه حضور داشتند تا در آينده، چنين پروژه‌ها با استفاده از ظرفيت‌های داخلی اداره و بدون نياز به هزينه‌های خارجی تطبيق گردد.
همچنان، محمد حق‌داد راشد، وکيل گذر مربوطه، با ابراز تشکری از اداره آمادگی مبارزه با حوادث، گفت که قبلاً باشندگان به‌دليل موجوديت اين سنگها در تشويش بودند و با تخريب مصون آن‌ها، صدها خانواده از خطرات احتمالی جانی و مالی ناشی از لغزش آن مصون خواهند شد.
گفتنی است که در همين ساحه، کتله‌های سنگی در حال لغزش وجود دارد که بر اساس پلان منظم اين اداره، کار در زمينه مصئون‌سازی آن جريان دارد تا امنيت کامل برای مردم تأمين گردد.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري لوی رئيس د فراه ولايت له والي سره وکتل

په پيل کې محترم ترابي صاحب د فراه ولايت والي ته د ښه راغلاست ترڅنګ د ياد ولايت د خلکو د ستونزو او اړتياوو په اړه په خپلو خبرو کې وويل، چې هر کال په دې ولايت کې بېلابېلې طبيعي پېښې رامنځته کېږي نو اړينه ده ترڅو په ياد ولايت کې د لومړيتوبونو له مخې وقايوي پروژې پلي شي او دا اداره تل هڅه کوي، چې له خپلې بودجې او هم د موسسو له لارې خلکو ته اساسي خدمتونه وړاندې کړي، هغه زياته کړه چې دا اداره ژمنه ده چې په ټول هېواد کې مستحقو خلکو ته پر وخت رسېدنه وکړي او په ټولو ولايتونو کې د طبيعي پېښو د خطرونو کمولو لپاره له موسسو سره په ګډه فعاليتونه ترسره کړي.
وروسته د فراه ولايت والي محترم الحاج ملا محمد حافظ مجاهد د طبيعي پېښو له امله زيانمنو ته د رسېدنې په برخه کې د دې اداري د فعاليتونو ستاينه وکړه او ويې ويل چې فراه ولايت د جغرافيايي موقعيت له امله هر کال د بېلابېلو طبيعي پېښو له ګواښ سره مخ وي، نو وقايوي پروژې د خلکو حياتي اړتيا ده. نوموړي ژمنه وکړه چې ولايتي اداره به خلکو ته د خدمتونو وړاندې کولو لپاره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري سره د تخنيکي همغږۍ په برخه کې بشپړه همکاري وکړي، تر څو پروژې په شفاف او اغېزمن ډول عملي شي.
په پای کې دواړو لوريو د خلکو ستونزو او اړتياوو ته د رسېدنې او د پېښو مديريت په فعاليتونو کې د همکاريو او همغږۍ پر پياوړتيا ټينګار وکړ.

## د پېښو چارو د انسجام معين په کابل ښار کې د هغو ډبرو د ويجاړولو له کار څخه چې د ښويېدو امکان يې شتون درلود ځارنه وکړه

د پېښو چارو د انسجام معين د پروژې د ليدنې پر مهال د مسؤلينو هڅې وستايلې، هغوی يې په اخلاص سره د کارونو ترسره کولو ته وهڅول او همدارنګه يې وويل چې د دغو ډبرو د ويجاړولو په کار کې دې ډېر احتياط وشي تر څو د سيمې خلکو ته زيان ونه رسېږي.
دا ډبرې چې ټوليز حجم يې ۹۹.۶۹۶ متره مکعب دی، د سيمې د اوسېدونکو ژوند يې له ګواښ سره مخ کړی و، او اوس مهال د اداري د مشرتابه په لارښوونه د دغو ډبرو په خوندي ډول د ويجاړولو کار د نه نوي زره او شپږ سوه او شپږ نوي (۹۹،۶۹۶) افغانيو په لګښت پيل شوی دی.
د يادونې وړ ده، چې د دې ډول ډبرو د ويجاړولو چارې د پلان او منظمې پروګرام له مخې په مسلسل ډول د کابل ښار او د هېواد په نورو ولايتونو کې هم روانې دي. ګران هېوادوال دې خبر وي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري او په آسيا کې د نړيوالو ټولنيزو خدمتونو مؤسسې (CWSA) ترمنځ د (۴۱۶،۳۹۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسليک شوه

په دې ناسته کې، محترم ترابي صاحب د پروژو پر وخت تطبيق او د اداري د لومړيتوبونو پر رعايت ټينګار وکړ او ويې ويل چې د پېښو د خطرونو د کمولو له اغېزمنو لارو څخه يوه هم د سيمه ييزو ظرفيتونو پياوړي کول ده، چې بايد لا زياته پاملرنه ورته وشي.
همداراز، د CWSA مؤسسې رئيس، محترم حزب الرحمن رحمن د روانو پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او د پروژو د شفاف او پر وخت پلي کولو ډاډ يې ورکړ.
د يادونې وړ ده، چې په پای کې د دواړو لورو ترمنځ د څلور لکه او شپاړس زره او درې سوه او دوه نوي (۴۱۶،۳۹۲) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسليک شوه. د دې تفاهم‌نامې له مخې به، ياده مؤسسه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ اداري په همغږۍ لاندې فعاليتونه ترسره کړي:
۱– د ننګرهار ولايت په بټي‌کوټ ولسوالۍ کې د ۲۴۰ مترو په اوږدوالي د محافظوي دېوال جوړول؛
۲– په کابل، ننګرهار، لغمان او کونړ ولايتونو کې د ښويېدو له خطر سره مخ د ۱۸۰۰ متر مکعب ډبرو ويجاړول؛
۳– د سېلابونو له خطر سره مخ سيمو د سروې او نقشې جوړولو لپاره د رضاکارانو ټيمونو جوړول؛
۴– د رضاکارانو ټيمونو لپاره د جغرافيايي معلوماتي (GIS) او د پېښو د خطر ارزونې او تحليل د سيستم په برخه کې روزنيز پروګرامونه ترسره کول او د ولسواليو په کچه د سېلاب ځپلو سيمو نقشې جوړول؛
۵– په جاپان کې د افغانانو لپاره د طبيعي پېښو د خطر مديريت په برخه کې د تخنيکي زده‌کړو تنظيمول؛
۶– د غيرامارتي مؤسسو لپاره د طبيعي پېښو د مديريت په اړه د تخنيکي روزنې تنظيمول؛
۷– د غيرامارتي مؤسسو د کارکوونکو له خوا د پېښو د خطر نقشو بياکتنه ترسره کول؛
۸– د ځمکې ښويېدنې له خطر سره مخ سيمو د پېژندنې لپاره د تخنيکي روزنې او لومړنۍ سروې ترسره کول؛
۹– د طبيعي پېښو د خطرونو د کمولو لپاره د فزيکي اقداماتو د پلان جوړونې په اړه د روزنيزو ورکشاپونو تنظيمول؛
۱۰– د علمي او تخنيکي فعاليتونو تمويلول، د علمي مقالو خپرول، د څېړنيزو نوښتونو ملاتړ، د طبيعي پېښو د خطر د کمولو ملي سمينار جوړول او د اړوندو پروګرامونو، سمينارونو او غونډو په ترسره کولو کې له دې اداري سره همکاري کول.

## د پېښو چارو د انسجام معين په کاپيسا کې د هغو ۱۲ ډبرو د ويجاړولو له بهير څخه چې د ښويېدو امکان يې شتون درلود ځارنه وکړه

د دغو ډبرو د ويجاړولو چارې د خير په دعا سره پيل شوې او د پېښو چارو د انسجام معين د کار په جريان کې پر دقت، چټکتيا او لازم احتياط ټينګار وکړ او اړوندو مسوولينو ته يې لازمې سپارښتنې وکړې.
همداراز، د خطر د مخنيوي او کمولو رئيس، د يادې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ويې ويل چې د دغو ډبرو ترڅنګ به د غرونو هغه برخې او نورې ډبرې چې د ځايي خلکو ژوند ګواښي، تر ارزونې وروسته په خوندي ډول ويجاړې شي.
په همدې حال کې، د کاپيسا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس، مولوي محمد صابر احمد، وويل چې په دې کلي کې له ۷۰۰ کورنيو څخه شاوخوا ۸۰ تر ۹۰ کورونه د دغو ډبرو تر ګواښ لاندې وو، چې اوس د هغوی د خوندي کولو بهير په چټکۍ سره روان دی.
د يادونې وړ ده چې دا ۱۲ ډبرې په ټوليز ډول د ۱۳۰ متر مکعب حجم لري او د دوو خاورينو غونډيو بدنه په ټوليز ډول ۱۴۶ متر مکعب حجم لري چې د يو لک (۱۰۰،۰۰۰) افغانيو په لګښت قرارداد شوې دي. همداراز، ۶ نورې ډبرې او يوه خاورينه غونډۍ چې ټوليز حجم يې ۴۵۹.۸۲ متر مکعب دی، تازه سروې شوې دي او د يو لک او نه دېرش زره (۱۳۹،۳۲۵) افغانيو په لګښت قرارداد شوې دي، چې کار به يې له نن ورځ ۱۱/۱۱/۱۴۴۷ نېټې څخه وروسته په يوه مياشت کې بشپړ شي.
په همدې حال کې، د سيمې اوسېدونکو دغه اقدام وستايه او له پېښو سره د مبارزې آمارګۍ اداري څخه يې مننه وکړه او د اسلامي امارت د مسوولينو لپاره يې د خير دعاوې وکړې.

## عامه پيغامونه:

۵. تيز رفتاري د مرګ سبب ګرځي
۶. پر يخ شوي سړک باندې په ډېر احتياط تګ کوئ
۷. د باران او واورې اورېدو په وخت کې په ډېر احتياط تګ کوئ
۸. د موټر چلولو په وخت کې د ترافيکي اصولو په پام کې نه نيول ډير خطرونه رامنځته کوي